مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

احسان‌الله اریزی

۲۰۲۳/۰۷/۲۵

# نړیوالي ټولنې

## ۶۶ برخه

**هغه ټولنې چې ځانګړې واکونه لرې**

**۱۲ -- د ببنې نړیواله ټولنه (AI) Amnesty International**

AI  په کال ۱۹۶۱ کې د برتانوي قانونپوه پیټر بیننسن له له خوا جوړه شوې ده. دا قانونپوه لیکي چې د لندن په مترو کبیې د سفر په وخت کې د هغه دوه پرتګالي زده کوونکو په اړه ولوستل چې د شرابو په تور په اوو کاله بند محکوم شوي وو. دې خبر قانونپوه بیننسن وهڅاوه چې غبرګون وښیې. ده ژر د (هېر شوي بندیان) تر نامه لاندې یوه لیکنه خپره کړه. دا لیکنه د هغه بندیانو په هکله وه چې د مذهبي توپیرونو یا حکومت ضد نظریاتو او افکارو په تومن، جزا وینې. د بیننسن کمپاین اثر د خلکو له مثبت غبرګون سره مخامخ شو او ډېرو کسانو او ورځپاڼو ته داسې لیکنې واستولې چې د نورو ناربنه وو او ښځمنو بندیانو په هکله وې.

بیننسن په همدې کال کې د پلټنې په نوم کتاب خپور کړ چې د هغه نهو بندیانو په هکله لیکل شوی و چې ده د وجدان زندانیان بلل.

د ۱۹۶۱ او ۱۹۶۲ د هڅو او هلو ځلو په پایله کې د ببنې نړیواله ټولنه یا AI جوړه شوه چې مرکز یې په لندن (برتانیا) کې دی خو اوس د نړۍ په ۱۵۰ هېوادونو کې استازي او ملاتړي لري[1].

اهداف:  AI  د بشري حقونو د دفاع او په ځانګړي توګه د بندیانو د حقونو د ساتنې په برخه کې کار کوي، د بشري حقونو په اړه د خلکو پوهاوی لوړوي.

تعلیمي فعالیتونه کوي او د بشري حقونو په کنوانسیون او نورو نړیوالو قوانینو کې د بشري حقونو د خوندیتابه د معیارونو د عاملو په برخه کې هلځلې کوي. د AI لوی اهداف دا دي:

- د بشري حقونو ساتلو ته هڅوې،
- حکومتونه هڅوي چې د بشري حقونو ټول نړیوال معیارونه ومني او عملي کړي،
- حکومتونه، سیاسیګوندونه،ډلې او ګروپ؛ سوداګریزېټولنې او عام خلک، د بشري حقونو ساتنې او درناوي ته بولي،
- AI  د بشر د هر ډولځوروني او ربړوني خلاف دی او د بشر د فزیکي او روحي خوندیتابه، د عقل، فکر، وجدان او بیان ازادی او له تبعیض او توپیري چلند سره مبارزې ته رابولي. که څه هم چې AI په اصل کې د بندیانو د خلاصون او د هغوی د حقونو د دفاع له پاره، د یو شمېر داسې کسانو له خوا جوړ شو چې په خپله خوښه دې کار ته چمتو شوي وو؛ خو اوس په نورو برخو کې هم کار کوي. د بېوزلتیا او تاوتریخوالي په ضد، د ښځو د حقونو د درناوي او د وسلو د قاچاق د مخنیوي او اعدام ضد کمپاینونه چلوي او د کډوالو د حقونو د ساتنې او د سیلانیانو خوندیتابه په برخو کې هم هلې ځلې کوي.

جوړښت: ملي بورډ د AI مرکزي اداره کوونکی ارګان دی چې د غړو هېوادونو د استازو په رایو ټاکل کېږي. بورډ بیا خپل مشر له خپله منځه ټاکي.  AI د نړۍ په ۱۵۰ هېوادونو کې کمکی څانګې لري چې هر یوځو مسلکي مامورین لري؛ خو ډېر کارونه هغه لس ملیون فعالین مخ ته وړي چې په خپله خوښه له دې ټولنې سره یو ځای شوي دي.

AI  د لندن په مرکزي دفتر کې یوه کمکی دارالانشا هم لري چې مشر د تر نظر لاندې کار کوي.

د AI مشر د همدې بورډ له خوا ټاکل کېږي چې د ټولو څانګو د مشرانو، مدیرانو او کارکوونکو د مدیریت او تنظیم کارونه په مخ وړي.

مالي سرچینې:  AI  له سیاسي، مالي، مذهبي، ایدیالوژیکي او اقتصادي اړخه یوه خپلواکه ټولنه ده چې هېڅ حکومتي ملاتړ نه لري او مشروط مرستې هم نه مني. د AI د بنسټیزه اسناد له مخې، د دې ټولنې تګلارې، پروګرامونه او هڅې مدیریت په کومه سیاسي یا سوداګریزه کړۍ پورې نه دي تړلي او د AI ډېره بودجه د غړو هېوادونو د خیریه



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په خیر و لولـئ

بنسټونو او شتمنو خلکو له خوا برابرېږي AI .هغه حکومتي مرسته هم مني چې د دې ټولنې له اصولو او تګلارو سره سمه وي او هېڅ شرط ونه لري.

**AI او افغانستان:** افغانستان له پخوا څخه د AI غړیتوب ترلاسه کړی دی. سره له دې چې دا ټولنه په نړۍ کې بریالۍ په مخ روانه ده او ان په اعدام محکومو کسانو له پاره یې بښنه ترلاسه کړې؛ خو په افغانستان کې ډېره بریالۍ نه ښکاري. AI په وار – وار د افغانستان په کورنیو جګړو کې د ښکېلو غاړو د محاکمې او د انتقالي عدالت د تطبیق غږونه اوچت کړي او په کال ۲۰۰۹ کې یې د افغانستان د ولسمشریزو ټاکنو د کاندیدانو له لېسته، د یو شمېر کسانو د نومونو لیرې کولو غوښتنه هم کړې ده[2].

**۱۳ـ د برېښنايي تکنالوژۍ نړیوال کمېسیون International Elector-Technical Commission (IEC)**

IEC په کال ۱۹۰۶ کې د پوهانو، متخصصینو او د بېلابېلو هېوادونو د الکتروتکنیکي ټولنو په زیار، جوړ شو چې د برېښنايي تخنیک په برخه کې، د نړیوالو ستندردونو د تدوین، خپرولو او تطبیق دنده په غاړه لري.

د IEC مرکز تر کال ۱۹۴۸ پورې په لندن کې و؛ خو وروسته ژنیو (سویتزرلند) ته ولېږدول شو. د بېلابېلو هېوادونو په ملي ستندردونو کې د همغږۍ په پام کې نیولو سره، د IEC په شان د نړیوالو ستندردونو منل او د سوداګرۍ د اسانتیا له پاره، د برېښنا او الکترونیکي محصولاتو تصدیق اړین دي. په اوسنیو شرایطو کې هېوادونه د نړیوالو ستندردونو د تدوین په کار کې فعال ګډون کوونکي دي. له همدې امله د بېلابېلو هېوادونو ملي ستندردونه، له IEC ستندردونو سره برابر شوي دي.

اوس په IEC کې د ۸۱ هېوادونو ملي کمېټې او ۸۱ هېوادونه Affiliate غړیتوب لري، په دې توګه د IEC د ټولو غړو شمېر ۱۶۲ ته رسي IEC .د خپلو فعالیتونو د پرمختیا او د نړیوالو ستندردونو د جوړولو له پاره ۱۷۴ فني او فرعي کمېټې لري او تر اوسه یې په باندې ۵۵۲۰ نړیوال ستندردونه، ۲۰۷ فني ځانګړتیاوې او ۳۵۱ راپورونه برابر کړي دي[3].

---

[1] Diplomatist.blogfa.com/posl

[2] Diplomatist.blogfa.com/posl

[3] www.iec.ch


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ